## مطبوعاتي اعلامیه

### د فېسبوک ادارې د حزب التحریر- ولایه سوډان فېسبوک پاڼه د هغې مطبوعاتي اعلامیې له خپرولو وروسته وتړله چې سرلیک یې و: «په تیونس کې د امریکایي ځواکونو ځای پر ځای کول لوی شر دی»

د فسبوک ادارې د جون په ۴مه د سهار په نهو بجو د حزب التحریر- ولایه تیونس فېسبوک پاڼه وتړله. که څه هم دا لومړی ځل نه دی او نه هم ښایي ورستی ځل وي چې دوی دغه کار ترسره کوي. د یادونې وړ ده چې دوی زموږ فېسبوک پاڼه د هغې مطبوعاتي اعلامیې له خپرولو وروسته وتړله چې سرلیک یې و: «په تیونس کې د امریکایي ځواکونو ځای پر ځای کول لوی شر دی» دا هغه اعلامیه وه، چې حزب التحریر پکې د امریکایي ځواکونو د ننوتلو خبرداری ورکړی و او په دغه ځای کې د فېسبوک ادارې د حزب التحریر پر وړاندې خپله جګړه روښانه کړه.

د حزب التحریر- ولایه تیونس وروستۍ مطبوعاتي اعلامیې په افریقا کې د امریکا د نظامي قوماندې (AFRICOM) رول، چې په افریقا کې د واکمنۍ لپاره ډیزاین شوی و افشا کړ. د دغې قوماندې پر بنسټ د هغوی شتمني لوټوي او خلک یې د استعمار تر یوغ لاندې راولي. سربېره پر دې د «ترهګرو» پر وړاندې د جګړې په پلمه د اسلام په مقابل کې جګړه کوي. ځکه چې دوی په نړۍ کې د افریقا په ګډون، چې اکثریت خلک یې مسلمانان دي، اسلام د خپلو استعماري ګټو پر وړاندې ستر ګواښ ګڼي. په اعلامیه کې د تیونس خلکو ته خبرداری ورکړل شوی و، چې تیونس ته د امریکایي ځواکونو د ننوتلو اجازه ورنه کړي. ځکه چېرته چې امریکایي ځواکونه ځي، هغه ځای له خاورو سره خاورې کوي او د خلکو عزت او شرف تر پښو لاندې کوي. په اعلامیه کې همدا راز ویل شوي و، چې د نبوت پر منهج له راشده خلافت پرته به بل هېڅ شی هم د امریکا او غربي کفارو هېوادونو له استعماري حرص او د افریقا په ګډون د ټولې نړۍ د شتمنیو د اختصاص مخنیوی ونه کړي. له دې پرته به ټول انسانیت د پانګوال نظام له بې عدالتۍ او استعمار سره لاس او ګرېوان وي.

د فېسبوک ادارې یو ځل بیا ثابته کړه چې له استعماري هېوادونو او د دوی له سیمه ییزو وسایلو سره اړخ لګوي. له شک پرته دا یې تایید کړه، چې غربي تمدن د اسلامي سیاسي او فکري تمدن پر وړاندې کمزوری دی او د مخنیوي په موخه یې د استبدادي رژیمونو او استخباراتي کړیو په واسطه، د هغوی لپاره خنډونه رامنځته کوي. حزب التحریر د ظالمانو له بې عدالتۍ سره سره، خپلې موخې ته د رسېدو لپاره، خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

﴿بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ﴾[انبيا: ۱۸]

***ژباړه:*** *خو موږ پر باطل باندې د حق ګوزار کوو، چې د هغه سر ماتوي او هغه ګوري، محوه کېږي. ستاسو لپاره د هغو خبرو له امله تباهي ده چې جوړوئ يې.*

**د حزب التحرير۔ ولايه تيونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق د شوال ۱۳مه**

**۲۰۲۰م د جون ۴مه**

**د صدور ګڼه ۱۴۴۱/۳۹**